AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۲/۱۰/۰۶

# لويي انتها د ناداني

چـــی بی ځـــایه لو یی لري نو، جــاهل دی
له دنیا او مافیـــــها ځـــینی غــــافل دی

لويي خپله انتــــــــــها د نـــادانی ده
د يو هــــانو عقید ت په دي کــــامل دی

اشـــــارات ددي عـــــالم پری اثر نه کا
چی مرکب دجهلت باندی ســـور تل دی

چی فانی دنیا د مــــــکر نه غـــافل وی
هغه خپله په دوابو کي شــــــــامل دی

فلـــــــسفیانو په تعــلیم به سری نه شي
چاچی اور د جهالت په زړه کي بل دي

کـــــــــرامت نبنه په هغو کي لیده شي
چی په خــــــــپله خپل عجز ته قایل دی

چی اسرار د خــارو خســــه خبر نه وي
معرفت د کردګار، ورته مشــــــکل دی

چی عبرت په نظر وګوري خپل حال ته
د لويي نه فراغت ورته حاصـــــــل دی

سید عبید الله نادر
کال ۱۳۸۰ پيښاور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ